ما له تا وروسته څلور کلمې درې ځلې ویلې دي، که دا د هغو ذکرونو سره چې تا له سهاره تر دې دمه ویلې دي پرتله شي، نو دا به له هغو درنې وي

د مومنانو له مور جویریه رضی الله عنها څخه روایت دی: نبي کریم صلی الله علیه وسلم له جویریه رضی الله عنها څخه سهار وختي، چې د سهار لمونځ يې ادا کړی و، ووت، او هغه په خپل عبادت ځای کې ناسته وه. بیا چې کله نبي کریم صلی الله علیه وسلم د څاښت له راختو وروسته ښرته راغی، هغه لا هم ناسته وه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «ایا ته لا هم په هماغه حالت کې يې چې ما پرې پرښودلې وې؟» هغې وویل: هو، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «ما له تا وروسته څلور کلمې درې ځلې ویلې دي، که دا د هغو ذکرونو سره چې تا له سهاره تر دې دمه ویلې دي پرتله شي، نو دا به له هغو درنې وي: سبحان الله وبحمده، عدد خلقه، ورضا نفسه، وزنة عرشه، ومداد کلماته».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د سهار په لومړیو کې، کله چې يې د سهار لمونځ وکړ، له خپلې مېرمنې — د مؤمنانو مور جویریه رضی الله عنها — څخه ووت، حال دا چې هغه د لمانځه په ځای کې ناسته وه، بیا چې کله د ورځې نیمایي وخت (د څاښت وخت) راغی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ښرته راغی، او هغه لا هم په هماغه ځای کې ناسته وه. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ته لا هم په هماغه حالت کې يې چې ته ما پرې پرښودلې وې؟ هغې وویل: هو، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «ما له تا وروسته څلور کلمې درې ځلې ویلې دي، که د اجر له پلوه د هغو ذکرونو سره پرتله شي چې تا ټول وخت ویلې، نو دا به پرې درنې شي: (سبحان الله): الله تعالی له هر ډول نېمګړتیا او کمښت پرته په پاکۍ (وبحمده): او د هغه له ستاینې او ثنا سره یادوم، ځکه هماغه ذات دی چې انسان ته يې د ذکر توفیق ورکړی، (عدد خلقه): د هغه د مخلوقاتو د شمېر په اندازه، چې یوازې هغه يې شمېرلي شي، (ورضا نفسه) یعني د هغه د رضایت په اندازه، دومره تسبیح بیانول چې هغه پرې له خپلو بندګانو څخه راضي شي، او دا هغه څه دي چې احاطه پرې ناشوني ده، (وزنة عرشه): د هغه د عرش د وزن په اندازه، چې تر ټولو مخلوقاتو ستر او درونده دی، (ومداد کلماته): یعنې د هغه د کلمو د رنګ په اندازه، حال دا چې د الله تعالی کلمې نه شمېرل کېږي او نه ختمېږي، چې دا درې واړو قسمونو ته شاملېږي: ځکه د هغه کلمو رنګ پای نه لري، او نه يې د کلمو صفت او شمېر پای لري، خو دلته ترې مراد: په ذکر کې د زیادت مبالغه ده؛ ځکه لومړی يې د هغه څه یادونه وکړه چې د مخلوقاتو زیات شمیر محدودوي، بیا ورپسې لوی او عظیم شي ته ورپورته شو او له هغه څخه يې د هغه د نفس د رضایت په اندازه تعبیر وکړ، بیا يې د مخلوقاتو تر ټولو د ستر یو یادونه وکړه چې هغه د عرش وزن دی؛ نو لومړی د شمېر او کمیت لپاره، دویم د صفت او کیفیت لپاره او دریم د لوی والي او دروندوالي لپاره.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5508